مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند
۲۰۲۶/۰۷/۰۶

# لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

## ۳۸۹مه برخه

ما مې د زړه دربار ترلی
لالی دې زنې پښو ته نه‌راوړي لاسونه

چې را په یاد شي، حال مې نورشي
جامې مې اور شي، راته سپځي اندامونه

دلته خو اوښ په بده کېږي
هلته حساب بیا د ذرې ـ ذرې کوينه

د لنډیو د دې برخې له‌پاره دا لاندې لنډۍ راټولې شوې دي:

لیلا چې بلکور ته وادشي
زما یادنه به یې خوب ته نه‌پرېږدینه

له غټوسترګو برخمنې
په رنځ اخته شي، زه دې زيـرزبېښلی‌کړمه

لیدلی‌یار د چا هېرېږي
کور دې یې ورانشي چې په ما یې هېروينه

ما مې د زړه دربار ترلی
لالی دې زنې پښو ته نه‌راوړي لاسونه

ملا ورتیزشه اذان وکړه
د یار لوېدلي سترګي زړونه ورانوينه

مرض مې ګران، علاج اسان دی
په تش دیدن د یار رغيـږم نه راځینه

ما ته دې خپل زړه ببرته راکړي
دا ویرلـړلي یــاري نــوره نــه‌کــومــه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ما ویل له غمه به دې مړه شم
مرګ په نیته وي، دروغجنه شوم مینئه

ښه ده چې ستا دوران خو تېرشو
هرمازدیګر به درنه سرې سترګې راتلمه

ستا په شان ډېر پر ما مئن دي
زړګی مې یو دی، زه بې چاله ورکومه

تا ته د زړه له زوره خاندم
غم به د زړه په کور دننه تېرومه

پرمخ مې شین زړوکی خور کئ
زه د بېلتون لیونو سپو داړلی یمه

په تاویزونو پوره نهشوه
داځل د کلي تول مشران راغونډومه

خدای دې زما د مور انګور که
زه په مور ګران یم، ستا به ډېر قدرکوینه

چې مې د تورو زلفو وار و
د چا به کار و، چا به هسې غړکاونه

چې را په یاد شي، حال مې نورشي
جامې مې اور شي، راته سپځې اندامونه

څوک چې د مور دوعا کې رنګ وي
که بدرنګ هم وي، خدای یې نه بدرنګوینه

دلته خو اوښ په بډه کېږي
هلته حساب بیا د ذرې ـ ذرې کوینه

د دنګوغرونو ارمان راشي
پردېوطن کې چې ګرمی ته وګورمه

د طبیبانو وس مې نهشته
رنځورلالی په زیارتونو ګرځومه

د دلهګانو په اختیاریم
پیغور به اورم، سر به کښته ګرځومه

د سترګوتور مې پرې اوبه شول
نه مې یار ـ یارشو، نه یې خلاص له غمه شومه

د بیلتانه ماښام مې وژني
له کوره تلليخلک ولي نهراځينه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**د هرچا خپله، خپله خوښه**
**زه به يې ځانته له وطن نه راولمه**

**دا مازديګر چې ځنګه تېرشو**
**داسې به تېرشي د ظالم روان ظلمونه**

**هغه ده لاړه، پناه کېږي**
**زړه مې رپېږي، د چا کور به ورانوينه**

**ورې وره شي، لويه مه‌شي**
**ته لا وړه يې، په يار وايي سلامونه**

**ورځ د جمعي ده، سوال قبلېږي**
**د خپل وطن په حق کې پورته کړئ لاسونه**

**صبر د قبر په مثال دی**
**څوک چې مدام صبر کوي، خاورې به شينه**

**زړګيه چا، چا له دې ورکم**
**هرسرې دا نارې وهي چې ياردې‌يمه**

**کلي کې ګردچاپيره ګرځم**
**چې پرې رغيږم، هغه سترګې نه‌وينمه**

**عمر مې تيرشو، غم مې دېرشو**
**نه مې يار هيرشو، نه يې خلاص له غمه شومه**

**اول دې سپينه‌خولګۍ راکه**
**بيا دې لالا ته توپک ورکه چې راځينه**

نوربيا

د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ